# په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت:

د ۲۰۲۳ کال د مې او جون میاشتو تازه راپور

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت

## د ښځو او نجونو حقونه

اوسني چارواکې د ښځو او نجونو پر حقونو باندې محدودیتونو ته ادامه ورکوي. د ۲۰۲۳ کال د مې د میاشتې په ۳ نېټه د اوسني چارواکو د عامې روغتیا سرپرست وزیر اعلان وکړ چې یوازې نارینه طبي زده کوونکي کولای شي، په ځانګړې رشته کې د تخصص د اکمال لپاره، د اکمال تخصص په امتحان کې ګډون وکړي. دغه بندیز د هغو مخکنیو بندیزونو سربېره دی کوم چې (د ۲۰۲۳ کال د فبرورۍ د میاشتې په ۱۲ نېټه کې) ښځې د طبي پوهنتونونو په نهایي امتحانونو کې د ګډون کولو څخه منعه شول او (د ۲۰۲۲ کال د دسمبر د میاشتې په ۲۰ نېټه کې) پوهنتونونو ته د ورتګ څخه منعه شول.

یوناما داسې پېښې ثبت کړې چې په هغه کې اوسني چارواکې د ښځو پر تردد او کار کې ګډون آزادیګانو باندې د بندیزونه په اړوند، کوم چې مخکې اعلان شوي وو، پلي کوونکې اقدامات ترسره کړي دي. د ساري په ډول:

- د مې میاشتې په لومړي نېټه، په هوایي ډګر کې، د اوسني چارواکو پولیس ځواک د یوې نړیوالې انجو دوې تنې افغان ښځینه کارکوونکې له دې امله ونیول ځکه چې دوی د محرم څخه پرته سفر کول.[1]
- د جون د میاشتې په ۳ نېټه د اوسني چارواکې د استخباراتو د عمومي ریاست پرسونل، کار ته د تلو په لاره کې[2] یوه نرس قابله ودروله او هغه یې د څو ساعتونو لپاره په توقیف کې وساتله او د هغې څخه د نړیوالې انجو سره د هغې د کار په اړوند پوښتنې وکړې. د راپورونو پر بنسټ هغوی دېته د کار کولو د دوام په صورت د مرګ ګواښ وکړ. هغې دوه ورځې وروسته استعفاء وکړه.
- د جون د میاشتې په ۱۹ نېټه د اوسني چارواکې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ریاست منسوبین یوه ښځه یې په لښته ووهله او ورته امر وکړ چې د عمومي پارک څخه ووځي.[۳]

د مې او جون په میاشتو کې، اوسني چارواکو له خوا د هغه داخلي انجوګانو د مداخلې پېښې ثبت کړې کوم چې د ښځو له خوا رهبري کېږي، یا په کار ګمارل کېږي. د یوې داخلي انجو جایداد د اوسني چارواکو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د منسوبینو له خوا ضبط شو ځکه چې د دغه انجو مشري د یوې ښځې له خوا کېده. دوه نور داخلي انجوګانو جوازونه د اوسني چارواکو د اقتصاد ریاست لخوا وځنډول شول ځکه چې د دوی په انجوګانو کې ښځینه کارکوونکې کار کول.
د قلم لاره داخلي انجو، د مدني ټولنې یو سازمان چې د نجونو د ښوونځیو د بیا پرانیستلو کمپاین کوي، مشر مطیع الله ویسا، لا تر اوسه په کابل کې د اوسني چارواکو د استخباراتو په عمومي ریاست کې د نامعلومو تورونو په تور په توقیف کې دی (د ۲۰۲۳ کال د مارچ په ۲۷ نېټه نیول شوی).

## د ملګرو ملتونو سره د افغان ښځو پر کار باندې سخت محدودیتونه

د ملګرو ملتونو سره د افغان ښځو پر کار باندې سخت محدودیتونه اغېزه د دغه سازمان پر کار باندې لا هم دوام لري. د محدودو کارکوونکو په استثناء، دد اپریل د میاشتې د ۵ نېټې څخه راپدې خوا د یوناما ټول افغان کار کوونکې، ښځې او نارینه، خپل رسمي کار د کور څخه کار ته دوام ورکوي ترڅو د کار ځای کې د غیر تبعیض چلند مخه ونیسي.

[1] د خوندیتوب په دلیل د سیمې نوم ندی یاد شوی.
[۲] د خوندیتوب په دلیل د سیمې نوم ندی یاد شوی.
[۳] د خوندیتوب په دلیل د سیمې نوم ندی یاد شوی.

## د ملکي وګړو خوندیتوب

یوناما د ۲۰۲۳ کال د مې د میاشتې په ۲۷ نېټه کې په افغانستان کې پر ملکي وګړو باندې د په لاس جوړ شوي چاودیدونکې توکو اغیزه (د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې څخه بیا د ۲۰۲۳ کال د مې د میاشتې تر ۳۰ نېټې پوره موده کې) راپور خپور کړ. د دې برسېره د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې د ۱۵ نېټې راپدېخوا چې طالبانو واک تر لاسه کړی دی، په افغانستان کې د وسله والې شخړې له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په شمېره کې ستر کمښت راغلی دی، خو یوناما بیا هم د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې یوه ستره کچه ثبت کړې ده، چې په عمدې بریدونو کې د په لاس جوړ چاودیدونکې توکو د کارولو له امله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې لامل شوې دی. د راپور کلیدي موندنې عبارت دي له:

- د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه د ۲۰۲۳ کال د مې تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما په ټولیز ډول ۳۷۷۴ ملکي تلفات (۱۰۹۵ وژل شوي، ۲۶۷۹ ټپیان) ثبت کړي دي. د دغو ملکي تلفاتو درې پر څلورمه برخه (۲۸۱۴ ملکي تلفات: ۷۰۱ وژل شوي، ۲۱۱۳ ټپیان) په ګڼ مېشتو سیمو کې د عبادت ځایونو، ښوونځیو او بازارونو په ګډون د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د بریدونو له امله رامنځته شوي دي. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې د ملکي تلفاتو ډېری برخه (۱۷۰۱) د عراق او خراسان ولایت د ځان پېژندل شوي اسلامي دولت لخوا د ورته بریدونو له امله وه.
- یوناما د طالبانو له واک څخه وروسته په عبادت ځایونو باندې د بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو زیاتوالی مستند کړی چې د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ څخه بیا ۲۰۲۳ د می تر ۳۰ پورې د ۱۲۱۸ ملکي تلفاتو (۳۶۸ وژل شوي، ۸۵۰ ټپیان) لامل شوي.
- ځانمرګي بریدونه په افغانستان کې د طالبانو له واکمنۍ وروسته هم د پام وړ اندېښنې پاتې دي او داسې ښکاري چې په مرګ ژوبله کې زیاتوالی راغلی، د لړو پېښو په پایله کې د ملکي تلفاتو کچه لوړه ده.
- د چاودیدونکو توکو د بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو دوام په ټول هیواد کې د مالي او اقتصادي بحران په شرایطو کې پیښیږي. قربانیان د برید وروسته اړین طبي، مالي او رواني ټولنیز ملاتړ ته د لاسرسي لپاره مبارزه کوي.
- د افغانستان اوسنې چارواکي مسؤلیت لري چې په افغانستان کې د ټولو وګړو د حقونو درناوی او ډاډ ترلاسه کړي چې خپل ورځني ژوند په خوندیتوب او د برید له ویرې پرته تیر کړي. د تیرو پیښو څېړنه او د دوی د تکرار مخنیوي لپاره د محافظت اقدامات خورا مهم دي.

د دغه تازه راپور د پوښښ موده په دوران کې، د په لاس جوړ چاودیدونکې توکې د بریدونو له امله لږ تر لږه ۱۵ کسان وژل شوي او ۴۹ تنه نور ژوبل شوی چې د هغو زیاتره برخه ملکي وګړي وو. د دغو تلفاتو ډېره برخه د بدخشان ولایت په فیض آباد ښار کې په دوو بریدونو کې رامنځ ته شوې، چې دواړه یې داعش-خراسان ډلې په غاړه اخیستي دي:

- د جون په ۶ مه د بدخشان ولایت د سرپرست والي مولوي نثار احمد احمدي پر موټر د ځای پر ځای شوي ماین په چاودنه کې د ولایت سرپرست او د هغه موټر چلوونکی دواړه ووژل شول او ۱۳ تنه نور ټپیان شول.
- د جون په ۸ مه د ولایت د سرپرست والي د جنازې په مراسمو کې د ځانمرګي برید له امله ۱۳ تنه ووژل شول او ۳۶ تنه نور ټپیان شول.

همدارنګه په همدې موده کې یوناما ۴۵ نور د ملکي وګړو تلفات ثبت کړي (۱۹ تنه وژل شوي او ۲۶ ژوبل شوي) چې د جګړو څخه پاتې شوي ناچاوده توکو ته منسوب شوي دي.

د دې ملکې وګړو مرګ ژوبلې زیاتره برخه ماشومان وو (۱۶ وژل شوي، ۲۳ ژوبل شوي) چې دوی اکثراً دغه ناچاوده توکې په دې موخه اخلې چې هغه د زړو اوسپنو په ډول خرڅ کړي.

- د مې د میاشتې په ۸ نېټه د کندهار په ښار کې دوه تنه هلکان او یوه نجلۍ – چې سره خور او ورونه وو – د یوې ناچاده توکې له امله ووژل شول. دوی هغه مهال دغه ناچاودل شوي توکې واخیست چې یو خالي سرای کې د زړو اوسپنو په لټه کې ګرځېدل.
- د مې د میاشتې په ۱۱ نېټه د قندوز د ښار د امام صاحب په ولسوالۍ کې پنځه تنه ماشومان هغه مهال د یوه ناچاودل شوي توکي له امله ژوبل شول چې هغه یې د خرڅلاو لپاره د زړو اوسپنو دوکان ته راوړي وو.

## بدني سزاګانې او د مرګ سزا

د مې میاشتې ۸ مه، یوناما په افغانستان کې بدني سزاګانې او د مرګ سزا په اړوند یو لنډ راپور خپور کړ چې د طالبانو له خوا د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ نېټه کې د ځواک تر لاسه کولو را پدیخوا موده تر پوښښ لاندې نېولې. د بدني سزاګانو قضايي پلې کولو ښېلګې، چې د محکمې د حکم پر بنسټ وو او اکثراً په عام منظر کې تر سره شوي دي، د مې او د جون په میاشتو کې دوام درلود. د ساري په ډول:

- د مې د میاشتې په ۲۱ نېټه د پروان ولایت د چاریکار په ښار کې د اوسنې چارواکو د استیناف محکمه په عام منظر کې یوه ښځه د زنا په تور په دُره ووهل. دې ښځې ته ۳۹ دُرې ووهل شوي او دغه سزا د اوسنې چارواکو ستره محکمه په خپل ویب سایټ کې اعلان کړ.
- د مې د میاشتې په ۲۴ نېټه د کندهار ښار د احمد شاهي په سټیډیم کې شپږ تنه نارینه په عام منظر کې د لواطت (بچه بازی) او زنا په تور هر یو یی ۳۹ دُرې ووهل شول. یوه ورځ مخکې ولایتي اوسنې چارواکې اعلان کړل چې د دغه سزا لپاره د شرعی حد د جاري کولو پر مهال، د راپور پر بنسټ، کابو ۲۰۰۰ تنه ځايي خلک حضور درلود.
- د راپور پر بنسټ، کابو ۲۰۰۰ تنه ځايي خلک حضور درلود. اوسنې چارواکې یوه اخطار نامه صادر کړ چې د حاضرینو څخه هیڅ یو حق نلري چې انځور او یا ویډیو واخلي او که څوک د دې هدایت څخه سرغړونه وکړي د سختو پایلو سره به مخ شي. د اوسنې چارواکو ستره محکمه هم په یوه اعلامیه کې د دغه دُرې وهلو په اړوند وویل چې محکوم شوي کسان په خپل جرم اعتراف کړي وو.

د جون د میاشتې په ۲۰ نېټه د اوسنې چارواکو ستره محکمه د ټیوټر له لارې اعلان کړ چې پر یو تن ۳۵ کلن سړي باندې د قصاص حکم جاري شو. دغه سزا د کوم ورځې څخه چې طالبانو واک تر لاسه کړی دی، دوهمه د مرګ سزا ده چې د محکمې د پریکړې پر بنسټ پلې شوی دی (لومړی ځل د ۲۰۲۲ کال د دسمبر په ۷ نېټه د فراه په ولایت کې پلې شوی و). دغه سړی د درې تنو ماشومانو او یو بل نارینه په دوه جلا جلا پېښو کې، په وژلو تورن شوي و. د راپور پر بنسټ دغه سزا د ولایتي، مرافعه او سترې محکمې له خوا تایید شوي وو چې وروسته له هغه د طالبانو مشر هم د مرګ د سزا پلې کول تایید کړ.د راپورونو پر بنسټ د قربانیانو کورنې د مجرم کس دغه غوښتنه رد کړل چې د مالي جبران په مقابل کې (دیت) د هغه د مرګ سزا څخه تېر شي. د مرګ سزا په عام منظر کې ترسره شو چې یو ماسک اغوستونکې جلاد هغه سړی یې په ډزو  وویشت.

د جون د میاشتې په ۲۱ نېټه د اوسنې چارواکو ویاند، ذبیح الله مجاهد د یوې مرکې پر مهال د مخکېنې فرمانونو یادونه وکړه چې د طالبانو مشر هدایت ورکړي و چې یوازې محکمه سزاګانې پلې کولی شي د فیزیکی سزاګانو په ګډون د ساري په ډول په لښته سره وهل.

## د قضايي محکمې پرته وژنې

يوناما لا هم په ټول افغانستان کې د پخواني حکومت د پوځ د منسوبينو د محاکمې پرته د وژنې قضيې ثبتوي. د ساري په ډول، د مې د مياشتې په ۱۷ نېټه د تخار په ولايت کې د افغان ملي پوځ يو سرتېري د دوو تنو له خوا چې پر موټر سايکل سپاره وو – د راپورونو پر بنسټ د اوسنۍ چارواکو د امنيتي ځواکونو غړي – کله چې دی خپل کور خوا ته روان وو، په ډزو وويشتل او ووژل شو. د مې د مياشتې په ۲۴ نېټه د سمنګان په ولايت کې د اوسنۍ چارواکو امنيتي ځواکونه، د پخواني افغان ملي امنيتي ځواکونو د يو منسوب کور تلاشي کړ چې د تلاشي په دوران کې دی هم په ډزو وويشتل او ووژل. د پخواني حکومت د نظامي پرسونل د خپل سر نيوني او توقيف – اکثراً د ملي مقاومت د جبهې سره د تړاو په تور – لا هم دوام لري په ځانګړي ډول د کابل او پنجشير په ولايتونو کې.

همدارنګه د مي او جون په مياشتو کې د ننګرهار او کنړ په ولايتونو کې د اسلامي حکومت د خراسان ولايت د ځانګې داعش سره د تړاو په تور د افرادو وژنه هم ثبت شوی دی. د جون د مياشتې په ۱ نېټه په جلال آباد کې دوه جسدونه په خلاصه سېمه کې موندل شول. اوسنۍ چارواکې وويل چې دوی د اسلامي حکومت د خراسان ولايت ځانګې داعش غړي وو او د پوځي عملياتو په ترڅ کې وژل شوي دي. د جون د مياشتې په شلمه نېټه په کنړ کې د اوسنۍ چارواکې د استخباراتو رياست يو تن د اسلامی حکومت د خراسان ولايت د ځانګې داعش غړي په تور ونيول، دري ورځې وروسته د هغه جسد وموندل شو.

## د رسنيو خپلواکي

د مې په ۳مه، د اطلاعاتو او کلتور رياست په لړ تر لړه ۱۱ ولايتونو کې د مطبوعاتو د ازادۍ د نړيوالې ورځې په مناسبت غونډې جوړې کړې. د دې غونډو موخه، لکه څنګه چې د اوسنۍ چارواکو لخوا ويل شوي، د رسنيو د حقونو د ساتلو او معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې د دوی پر ژمنې ټينګار و. د مې د مياشتې په پای کې د اوسنۍ چارواکو د اطلاعات او کلتور يو شمير رياستونه په خپلو ولايتونو کې د رسنيو د فعاليتونو د څارنې په خاطر د کمېټيو د رامنځته کولو لپاره اقدامات ترسره کړل. ۵ دغه کميټو کې چې د اطلاعات او کلتور د رئيس تر مشرۍ لاندې کار کوي، د استخباراتو رياست او امر بالمعروف او نهي عن المنکر ادارو استازی هم د غړو په توګه ګډون لري. د دغو کمېټيو د دندو د توضيح په اړوند کومه اعلاميه نه دی خپور شوي. په داسې حال کې چې يوناما يوازی يوه دا ډول پېښه ثبت کړې چې د هغه په ترڅ کې د مې په مياشت کې يوه کمېټه يو شخصي راډيو سټيشن څخه، پرته له کوم مخکنې اطلاع، نظارت تر سره کړی دی. که څه هم د راپورونو پر بنسټ دغه کمېټه د دغه شخصي راډيو سټيشن د فعاليت په اړوند کوم د اندېښنې موضوع ندی ياد کړې، خو ژورنالستان په دې آند دي چې دغه کمېټې، پرته له کوم مخکنې خبر څخه د دوي د کارونو څخه نظارت، د رسنيو خپلواکې نوره هم د ګواښ سره مخ کوي. همدارنګه د مې په مياشت کې د مرکز په کچه، د اوسنۍ چارواکو د استخباراتو د عمومي رياست يوه ډله، ۵۳ رياست چې د مطبوعاتو د فعاليت څار د دوي دنده ده، د شمال او شمال شرقي زونونو يو شمېر ولايتونو ته سفر کړې چې د رسنيزو شبکو سره وګوري او دوي هغه هدايات بيا تکرار کړې کوم چې پر دوي باندې د پلې کولو وړ دي.[۴]

اوسنۍ چارواکې د ژورنالستانو په خپل سر نيونه او توقيفولو ته دوام ورکوي. د مې د مياشتې په ۸ نېټه د خوست په ولايت کې د خوست ولايت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ولايتي رياست، د اطلاعات او کلتور رياست سره په همغږۍ کې، څلور تنه ژورنالستان ونيول او دوي ته هدايت ورکړ چې د اوسنۍ چارواکو پر ضد د خبرو او راپورونو او همدارنګه د ساز د نشرولو څخه دې ډډه وکړي. دري ورځې وروسته دوي خوشې شول. د دې برسېره مرتضی بهبودي، فرانسوي-افغان ژورنالست، د جنوري په ۷ نېټه ونيول شو او په کابل کې د اوسنۍ چارواکو د استخباراتو په عمومي رياست کې تر توقيف لاندې دی. د هغه پر ضد تورونه نا معلومه دي.

[۴] په دغه بنديزونو کې د سازد نشرولو بنديز، د نارينه او ښځېنه نشرکوونکې جلاوالي، راډيويي پروګارمونو ته د ښځېنه و پر ټيليفون کولو بنديز، خو د ښځو د ناروغي او اسلامي مسايلو په اړه د پښتنو په استثناء چې په دغه دوو مواردو کې ښځې کولاي شي د ټليفون له لاري خپل پوښتنې مطرح کړ، ښځېنه کار کوونکې بايد د حجاب پاليسی رعايت کړي او د هغه محرم کولاي شي د هغې په کارځای کې داخل شي؛ د داسې پروګرامونو خپوزل بند دي چې ملي منافعو پر ضد وي او يا د اوسنې چارواکو باندی تنقيد وي؛ د يوتيوب همکاران بايد جواز ولري؛ کله چې طالبانو ته اشارهٔ وې بايد د اسلامي امارت لفظ وکارول شي.

## د اوسنيو چارواکو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د وزارت فعالیتونه

د اوسنيو چارواکو د امر بالمروف او نهي المنکر وزارت، هم د موجوده هداياتو د پلي کولو کار ته ادامه ورکوي او هم نوي دايريکتيفونه صادروي چې ډيری يې د ښځو او نجونو د ورځنۍ ژوند او بنسټيز آزاديګانې باندي اغيزه کوي.

- د مې د مياشتې په ۱۶نېټه په کندهار کې، د راپورونو پر بنسټ، د کندهار ولایت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رياست د شفاهي امر په صادرولو سره ويلې چې ښځې د قبرونو، ګورستانونو او زيارتګاهونو د ليدو څخه منعه کړي دي، او د اوسنيو چارواکو پوليس ځواک يوه ډله ښځې او نجونې د قبرستان د ليدو څخه منعه کړل.
- د مې د مياشتې په ۱۸ نېټه په هرات کې، د هرات ولايت د امر بالمعروف او عن نهي المنکر رياست، په دغه ولايت کې د ښځېنه ښايست صالونونو په اړوند، ۱۳ فقره ييز فرمان صادر کړی دی، چې د هغه په احکامو کې لاندنې ټکې هم شامل دي: اړتيا ده چې ښځې د ميک اپ وهلو مخکې اودس وکړي، حجاب په کلکه رعايت شي او د لمانځه وخت دي په پام کې ونيول شي. همدارنګه دغه فرمان صراحت لري چې نارينه نشي کولاي آرايشګاه ته ننوځي او نشي کولاي عکس او يا فلم واخلي.[۵]
- د جولای په ۲مه، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا لاسليک شوی ليک کې چې په ټولنيز رسنيو کې لاس په لاس کيدو راغلي چې په ټول هيواد کې آرايش خونو ته لارښوونه کوي چې د جولای تر ۲۵ پورې دي وتړل شي. د جولای په ۵، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت د ټويټر له لاري اعلان وکړ چې د اوسنيو چارواکو د مشرتابه لخوا د صادر شوي فرمان پراساس به د ميرمنو د ښکلا ټول صالونونه وتړل شي او د دوی جوازونه به باطل شي. ۲۵ جولای ۲۰۲۳. په فرمان کې ويل شوي چې د ښکلا صالونونه فعاليت د شريعت خلاف او غير ضروري لګښت دی.

يوناما د داسې بېلګو ثبتولو ته دوام ورکوي چې په هغه کې د اوسنيو چارواکو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت منسوبين هغه افراد په خپل سر سره نيسي او ناوړه چلند ورسره کوي کوم چې د دوي د فرمانونو د هداياتو، په ځانګړي ډول د ښځو لپاره حجاب او د نارينوو په اړوند د ږيري د اوږد والي اوامر نه رعايتوي.

- د مي د مياشتي په ۱۲ نېټه د امر بالمعروف و نهی عن المنکر رياست چارواکي يو سلمان يي په دي تور ونيول چې هغه د نارينه و سرونه يي په غربي ډول جوړول او د دوي ږيري يې لنډول. دغه قرباني کس د څلورو روځو لپاره په بنديخانه کې وساتل شو.[۶]

[۵] د فرمانونو احکام دا دي: ۱- مسلمانان بايد خپل لمانځه په هغه وخت کې په خپل دوکان کې وکړي. ۲- د حجاب بشپړ رعايت. ۳- هغه مواد چې نشي کولاي اوبه جذب کړي د بدن پوستکې لاندي اوبه تېرول منعه دی.۴- آريشګاه نشي کولای د خپل مشتريانو څخه زياتې پېسي واخلي.۵ - څومره چې امکان ولري، آرايشګاه داسي مواد وکاروي چې اودس باطل نکړي. ۶- ښځې د سېنګار څخه مکې بايد اودس وکړي. ۷- هغه ميک اپ مکاروي چې اودس ورسره باطل کيږي او يا لمونځ نه روا کيږي. ۸- سلمانېګاني بايد خپله دنده د شريعت د اصولو سره سم ترسره کړي. ۹- په آريشګاه کې دننه د کمره نصبولو بند دی. ۱۰- په آريشګاه کې دننه د عکسونو او يا فلمونو اخيستل منعه دی. ۱۱- نارينه حق نلري چې آريشګاه ته ننوځي. ۱۲- په هره آريشګاه بايد د ښځو د اودس لپاره ځای وی او تل پاک او ښه وضعيت کې وي. ۱۳- د آرايشګاه کسان حق نلری چې د ميک اپ لپاره د مشتری کور ته روشي.

[۶] د خونديتوب په دليل د سېمې نوم ندی ياد شوي.

- د راپورونو پر بنسټ، د مې د میاشتې په ۱۶ نېټه د دایکندي په ولایت کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست منسوبین په یوه تلاشي پوسته کې، د اوسنې چارواکو پولیس سره په ګډه، د ږیرې او حجاب د رعایتولو د نظارت پر مهال، څو تنه نارینه، ښځې او نجونې ووهل، ونیول او توقیف یې کړل.

ویل کیږي چې په ځینو مواردو کې د اوسنې چارواکو د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت هڅه کړې چې خپل مامورین تأدیب کړي تر څو د داسې پېښو د تکرار څخه مخنیوی کړي وي. د ساري په ډول د می په ۲۵ مه د اوسنې چارواکو د امر بالمعروف او نهې عن المنکر وزارت د خپل تیوتر پاڼې له لارې[1] اعلان کړی دی چې د دغه وزارت یو تن تفتیش کوونکې د خپل دندې څخه لېرې او محکمې ته معرفي شو وروسته له هغه چې په ټولنیز رسنیو کې خپور شوې ویډیو ښیي چې دی د بس یو موټروان په څپېړه وهي.

## قضایي او بندیخانو نظام

یوناما د اوسنې چارواکو د بندیخانو د اداري سره په تعامل کې دی چې د دوي ملاتړ ترلاسه کړي چې د سمنګان، جوزجان او فاریاب ولایتونو په بندیخانو کې د جنسي ناوړه ګټه اخیستنې د ادعاګانې په اړه چټک تحقیقات ترسره کړي. وروسته د اوسنې چارواکو د ولایتي مسؤلین د اوسني چارواکو د بندیخانو اداري د استازو سره په ګډه د تحقیق په موخه، د یاد شویو بندیخانو څخه لیدنه وکړه او د راپورونو پر بنسټ، دې پایلې ته رسیدلي دي چې یاد شوي ادعا ګانې بې بنسټه دې.

د مې د میاشتې په ۲۲ نېټه د اوسنې چارواکو د عدلیې وزارت یوه رسمې جریده خپور کړ چې په هغه کې د اوسنې چارواکو د مشر ۶۵ فرمانونه، امرونه او هدایات کوم چې د ۲۰۱۶ کال د جون د میاشتې څخه بیا د ۲۰۲۳ کال د جنوري تر میاشتې پورې صادر شوي وو پکې نشر شوي دي، چې یو شمېر یې په پراخه پیمانه د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې راپدیخوا د ټولنیزو شبکو له لارې بیان شوي دي.

د رسمې جریدې متن یو شمېر قضایي، حکومتولي او اداري مسلې تر پوښښ لاندې نیولې او په هغه کې ۲۰ هدایات د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې څخه مخکې موده کې صادر شوي وو، چې اوسنې چارواکې لا څواک نه وو تر لاسه کړې.

د جون د میاشتې تر پایه پورې د هېواد په ټولو بندیخانو کې د بندیانو شمېر کابو ۱۵۰۰۰ تنو ته رسیدلې چې په منځنې ډول د ۲۰۲۲ کال تر نیمایي پورې چې د اوسنې چارواکو د بندیخانو اداره هوډ درلود چې وساتې، ۱۰۰۰۰ تنه زیات شوي دي. پدې بندیانو کې هغه شمېر ښځې او نجونې هم شامل دې کوم چې خپل د سزا موده یې پوره کړې او یا تشخیص شوې دي چې باید خوښې شي، خو د سپارلو لپاره د محرم کس د نشتوالي له امله اوس هم په بند کې دي. دغه موضوع د اوسنې چارواکو د بندیخانو د اداري مسؤلین یې د سختو ننګونو سره مخ کړي دي چې د کافي خوراک او روغتیا پالنې د خدمتونو په ګډون، د بندیانو سره د چلند د لږ تر لږه معیارونو د رعایت داډمنولو لپاره د کافي سرچېنو د نشتوالي سره مخ دي.

دغې موضوع ته د رسیدګې په خاطر، د جون په میاشت کې مختلط کمېټې چې په هغه کې د اوسنې چارواکو د بیلابیلو ادارو استازې ګډون درلود (د اوسنې چارواکې د محاکمو، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ادارو او د بندیخانو د مدیریت د اداري استازو په ګډون) د بندیخانو څخه لیدنه کړې چې دا ډول قضیې بیا وګوري او د دوي د دوامداره توقیف لپاره حقوقي چارې تحلیل کړې او هغه کسان تشخیص کړې چې کیدای شي د لوي اختر په مناسبت له بنده خوښې کړای شي.

د جون د میاشتې په ۲۸ نېټه، د لوي اختر په لومړي ورځ کې د اوسنې چارواکو ستره محکمه د ټول هېواد د بندیخانو څخه د ۲۱۷۸ تنو بندیانو خوښې کیدل اعلان کړ. همدارنګه اعلامیه کې وویل شوي دي چې د ۴۸۹ تنو نورو بندیانو د بند په موده کې کمښت راغلی دی.